LGL Bayerisches Landesamt für Gesundheit und Lebensmittelsicherheit

# بنه دی چي پوه شو: دیفتري

## په زیاتو ژبو معلوماتونه




pashtu

Das Gesundheitsprojekt
MiMi
Mit Migranten für Migranten

gefördert durch
Bayerisches Staatsministerium für Gesundheit und Pflege

دا معلوماتونه دځه لپاره؟ ................................. 3

ډیفتري څه شي ده؟ ........................................ 3

په ډیفتری میکروب څنګه اخته کېدای شي؟ .................. 4

ناروغي څنګه ښکاره کیږي؟.................................. 5
تنفسي ډیفتري.................................................. 5
د پوستکي ډیفتري.............................................. 6

د ډیفتری درملنه څنګه کیږي؟................................ 7

نورو ته دلیږد مخه څنګه نیول کیږي؟ ........................ 8

واکسین: له ډیفتري څخه غوره ساتنه.......................... 8




هم انلاین د راهنما په توګه
www.diphtherie-mehrsprachig.de

## دا معلوماتونه دڅه لپاره؟

ديفتری په ټول نړۍ کي شتون لري. په پخوانيو وختونو کي ددي ساري ناروغي له امله په زرګونو کسان مړه شوي دي، په خاصه توګه ماشومان. څنګه چي په اروپا کي زيات ماشومان واکسين شوي، ديفتري ناروغي له ۱۹۶۰ کال را پديخوا په زياته اندازه کمه شوې.
په المان کي له ډيروخت راپديخوا په ځانګړي توګه کمي پيښي را منځ په ډيرو نورو هيوادونو کې، ديفتری اوس هم ډير عام دی، د بيلګې په توګه د ختيځ مديترانې په سيمه کې، په آسيا، افريقا او جنوبي امريکا کې.
په اصل کې، که چيرې د واکسين شوي خلکو تناسب کم شي، دا خطرناکه ناروغي په چټکتيا خپريږي.

په دې وروستيو وختونو کې په اروپا کې هم ديفتری ناروغۍ موندل شوې. له همدې امله اړينه ده چې د دې هيري شوي ناروغۍ او واکسين کولو په اړه معلومات ورکړه شي.

## ديفتري څه شي ده؟

ديفتری له ميکروب نه پيدا کيږي. ميکروب يوقسم زهر (د حجرو زهر) خوشې کوي چې هغه بيا د بدن د حجرو د مړينې لامل کيږي. د ديفتری ميکروب کولی شي د تنفسي لارې او يا پرپوستکي برید وکړي. ديفتری يوه انفکشن ناروغي ده، دا پدې معنی چې ساری ناروغي ده. دا کولی شي جدي پايلې ولري او حتی نن ورځ د مړينې لامل کيدا ی شي.




## په دیفتری میکروب څنګه اخته کېدای شي؟

تنفسي دیفتری په عمومی توګه د هوا له لارې لیږدول کیږي. کله چې تا سي تنفس کوئ، د رطوبت کوچني څاڅکي رامینځته کیږي چې کولی شي په هوا کې میکروب واخلی. د بیلګې په توګه که خلک یو له بله نږدې تماس ولري، او یا د مچولو په حالت کې کیدای شي میکروب تنفس کړي (دڅاڅکي انفیکشن). د دیفنري میکروب کولی شي پر شیانو هم ژوندي پاتې شي (د بیلګې په توګه د دروازې پرلاس نیونکو یا د اوبوپرنلونو) او له هغه ځایه کولای شي بل کس ته ولیږدول شي.

انسانان هم چې پخپله ناروغ نه وي، کولای شي ددفتری میکروب نورو انسانانو ته و لیږدوي. هغه کسان چې واکسین شوي وي، هم کولای شي، دیفتري میکروب ولیږدوي، دا ځکه چې واکسین د حجرو پر زهر تاثیر کوي، اما پخپله پر میکروب تاثیر نه کوي.

د پوستکي دیفتري (چې د زخم دیفتري هم نومیږی) میکروب د زخم له لاری په پوستکي ننوزی (د بیلګي په توګه زخم سوی ځای) له لاري بدن ته ننوزي، زیات وخت په پښو یا لاسونو کې.

##  ناروغي څنګه ښکاره کېږي؟

که د ديفتری ميکروبي زهر وينه ته ننوځي، دا کولی شي داخلي ارګانونو ته زيان ورسوي. دا کولی شي جدي پايلې ولري. د مثال په توګه: د ساه لنډۍ سره سينه بغل، د زړه د عضلاتو سوزش، د اعصابو زيان، فلج او کوما. څوک چي واکسين شوي وي او په ديفتري اخته شي، زيات وخت هيڅ نه ناروغه کيږي او يا لږ څه ناروغه وي. هغه انسانان چي په کافي اندازه واکسين شوي نه وي، زهري مواد د بدن پر نسجونو برید کوي او له منځه يي وړي.

### تنفسي ديفتري

د تنفسي ناروغۍ عمومي نښې (علامات) له سرايت نه وروسته له دوو څخه تر پنځو ورځو پورې، ځيني وختونه تر ۱۰ورځو پورې څرګنديږي. پدې کې شامل دي: ضعف، د ستوني درد اوخاربښت، تبه، تنفسي اوتر ستوني تيريول، او په غاړه کې د لومف غټيو پاړسوب.

د ديفترى عادي نښي په لاندي ډول دي:

- په زوره او لوړ اواز ټوخا (کرپ ټوخا)
- په پيل کي سپين، وروسته په ستوني کي نسوارى – خړ پوښ (پسويدو ميمبران)
- د تنفس خوږ بد بوی
- اواز له لاسه ورکول
- سخت پړسيدلی ستونی

تاسو سمدستي طبي پاملرنې ته اړتیا لرئ که تاسو د دیفتری عادي نښې ولرئ. غوره ده چې د تلیفون له لارې د خپل کورني ډاکټر وخت واخلئ. هغوی ته په تلیفون کې وواياست چې تاسو شاید ددیفتریښې لرئ. په دې توګه، مرستندویان کولی شي د ځان او نورو خلکو ساتنه وکړي. که تا سي له یوکس سره چې په دیفتری اخته شوی وی، نږدې په تماس کې واست، تاسو باید د خپل کورني ډاکټر کتنځی سره اړیکه ونیسئ. په داسي حالت کې د ډاکټر کتنځي ته مخ کې له مخه خبر ورکړئ.

له طبي کتنځی نه سلا مشوره او مرسته تر لاسه کول په دي انترنت پاڼه کې پیدا کولای شئ. هلته په زیاتو ژبو معلوماتونه شتون لري.
www.116117.de

که تاسو په ګډ استوګنځي کې اوسیږئ، سمدلاسه د تاسیساتو مدیر ته، د تاسیساتو روغتیایی او یا ټولنیزو خدماتو څانګې ته، خبر ورکړئ. د امکان په صورت کې ژر تر ژره له ټولو اړیکو نه ډډه وکړئ

## د پوستکي دیفتري

د پوستکي دیفتری د ورکو ټپونو څخه وروسته څرګندیږي (د بیلګې په توګه خراش یا د حشراتو چیچلو). هغه ځای پړسیږي او سور کیږي، او پوستکئ غوړ غوندي کیږي. ډیری وختونه داسې ښکاري لکه چې د پوستکي نه یوه ټوټه ایستل شوې وي.
که تاسي د پوستکي دیفتري نښي ولرئ، له ډاکټر نه مرسته و غواړئ. کوم وخت چې ډاکټر ته مراجعه کوئ، مخکي له مخه هغوی ته وواياست چې شاید تاسي به دیفتري ولرئ.



## د ډیفتری درملنه څنګه کیږي؟

که د ډیفتری شک را منځ ته شوی وي، باید انفکشن د لابراتوار له خوا ثابت شي. په هر صورت ددې لپاره چې د ناروغي د پر مخ تګ مخه ونیول شي، درملنه سمدلاسه پیل کیږي. ناروغ کسان باید له نورو کسانو نه بیل شي، تر څو نورو ته سرایت ونه کړي. پر هغو کسانو به هم محدودیتونه وضع شي، چې د ناروغ کس سره یې اړیکې لرلې.

د ډیفتری ناروغي باید ژر تر ژره و پیژندل شي او مخه یې ونیول شي. له همدې کبله ددې ناروغي په اړه معلومات ورکول حتمي دي. روغتیایی کارکونکي او د ټولنیز تاسیساتو مشران مکلف دي، په دې اړه روغتیایی اداري ته خبر ورکړي.

د ډیفتري میکروب باید په بشپړه توګه له منځه یووړل شي، تر څو نورو خلکو ته و نه لیږدول شي. په ډیفتري اخته کس ته میکروب وژونکي درمل (انتی بیوتک) ور کول کیږي. زیات وخت ددوو اونیو لپاره. بر سیره پر دې د تنفسي ډیفتری په حالت کې هغه د ډیفتری زهر، چې په بدن کې وي، باید په مقابل زهرو له منځه یووړل شي. د پوستکي ډیفتري په حالت کې د زهرو مقابل درمل هغه وخت ضروري دي، چې د پوستکي زخمونه یو معیني اندازې ته ورسیږي.



## نورو ته دلیږد مخه څنګه نیول کیږي؟

ناروغ کسان او له هغوی سره اړیکي لرونکي کسان باید مقررات تعقیب کړي، تر څو نور کسان په اخته نه شي. په مقرراتو کي شامل د بیلګې په توګه: د پوستکي د دیفتری په حالت کي په کور ځان بیل ساتل او خاص روغتیا یی مقررات مراعات کول (نظافت). تر کومه وخته چي انفکشن په پوره توګه له منځه خي، ناروغ کسان په عمومي توګه باید په ټولنیز ځایونو کي و نه اوسیږي او یا کار ونه کړي. هغوی په لنډ مهاله توګه یو بل د اوسیدني ځای ورکول کیږي. د تنفسي دیفتري اخته کسانودرملنه  په عمومي توګه په روغتون کي کیږي.
که د سرایت خطر شتون ولري، د اړیکي لرونکو کسانو درملنه مخکي له مخه (د مخنیوي په موخه طبي اقدامات) په انتي بیوتیک کیږي. د اړتیا په وخت کي د هغوی واکسین تازه کیږي او په بشپړه توګه واکسین کیږي. بر سره پر دي یي نښي هم اخیستل کیږي، تر څو میکروب ثابت شي. له همدي کبله اړینه ده، چي د روغتیایی کارکونکو ټولو پوښتنو ته جوابونه وویل شي.



## واکسین: له دیفتري څخه غوره ساتنه

د دیفتري پر وړاندي موثره واکسین شتون لري. د دیفتری واکسین په یوه ګډ واکسیتن کي شامٍل دي او د روبرت کوخ انستیتوت د واکسین مستقل کمیسیون (شتیکو) له خوا د معیاری واکسین په توګه توصیه کیږي
اساسی واکسین د ۲، ۴ او له ۱۱ میاشتو په عمر کي توصیه کیږي.
د واکسین تازه کول د ۵ – ۶ او له ۹ – ۱۶ کلونو په عمر کي  وي.
ترسن پورته کسانو لپاره د واکسین مستقیل کمیسیون (شتیکو) د واکسین تازه کول هر ۱۰ کاله توصیه کوي. د خطر ناک اړیکو په وخت کي واکسین باید هر ۵ کاله تازه شي.

ځيني وختونه ماشومان يا لويان د لومړي ځل لپاره واکسين شوی نه وي او يا يي واکسين تازه شوی نه وي. په داسي حالت کي بيا په هر سن کي کيدای شي واکسين شي.

معايناتو په چوکاټ کي له زيږون نه تر ځوان عمر پوری د واکسين „J“ او „U“ قانوني روغتيايی بيمه لګښت پر غاړه اخلي. دا معاينې او واکسينونه د ماشومانو په متخصص کتنځي او يا د کورني ډا کټر په کتنځي کي کيږي.
هغه لويان چي په قانوني بيمه کي وي، ددیفتري واکسين په وړيا توګه ور کول کيږي. که تاسي د مهاجرينو او پناهندګانو په بيمه کي شامل ياست، ستاسي د واکسين لګښت هم بيمه پر غاړه اخلي.

د ډاکټر له کتنځي سره د سلا مشوري او اړيکو نيولوپه اړه معلومات په دي پاڼه کي www.116117.de پيدا کولای شئ. هلته په څو ژبو معلوماتونه شتون لري.
که تاسي مطمئن نه ياست، چي تاسي پخپله يا ستاسي ماشوم واکسين شوي ياست، بيا نو له خپل ډاکټر يا ډاکټری سره خبري وکړی.

## امپریسوم

**خپرونکي:**
Bayerisches Landesamt für Gesundheit
und Lebensmittelsicherheit
www.lgl.bayern.de

Bayerisches Landesamt für Gesundheit und Pflege
www.stmgp.de

Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.
www.mimi.bayern

**وخت:** ۲۰۲۳ لومړی چاپ

**تر تیب:** eindruck.net, Hannover

**د سرلیک انځور:** iStock.com/ma_rish

**ژباړه:** Dolmetscherservice
Ethno-Medizinisches Zentrum e. V.


**د انترنتي اړیکو په اړه:**
د هغو انترنیتي پاڼو محتویات، چې دلته ښودل کیږي، یوازي دهغه پاڼو خاوندان مسولیت لري.

LGL Bayerisches Landesamt für Gesundheit und Lebensmittelsicherheit

gefördert durch Bayerisches Staatsministerium für Gesundheit und Pflege

Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.




دا نشريه برسيره پر دي په انلاين کي
د لار ښودني په توګه شتون لري:

www.diphtherie-mehrsprachig.de

تاسي کولای شئ، په وړيا توګه د چاپي بروشور غوښتنه وکړئ.
دا بروشور په عربي، المانی، انګريزی، فارسي، پښتو، او
اوکرايني ژبو شتون لري.


انلاين: www.diphtherie-mehrsprachig.de

ايميل: bayern@mimi.eu

په ليکلي توګه:
MiMi-Zentrum für Integration in Bayern
Zenettiplatz 1
80337 München

تلفن: 089 52035959


www.diphtherie-mehrsprachig.de

دا لار ښود وړاندي شوی: